مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۱۱/۲۴

# عجب ویش!!

یو ګل مې له چا وغوښته، غونچه یې راته راکړه
هوا د روهـ د ملک، پاکه سوچه یې راته راکړه

باور چې مې پلار وکه، د کوز کلی په مُلا
مُلا کتاب را نکه، تمانچه یې راته راکړه

پرون تبادُله وه ، په بازار کی د ګونډونو
درنه برخه یی ځانته کړه، کچه یی راته راکړه

لا لا راسره ویش کړه، شتمني پاتی له پلار
نور هرڅه د لا لا شو، مرغانچه یی راته راکړه

باغونه د منو یی کړه، تقسیم خپلو بچو ته
چنجو خوړلي وچه، الو چه یی راته راکړه

حیران نه یم اخلاص ته، ددی مینې پښتنی
چې ډکه له ښکلا، د ژوند باغچه یی راته راکړه

پرون یی راته و ویی، هیر نکړی کلیواله !
هرڅه په دی کی لیکه، کتابچه یی راته راکړه

نومبر/۲۳/۲۰۱۸
تورنتو ــ کاناډا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ